مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۱٤مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر شپږمه | ٤۳۹مه گڼه

# د ارگ او بهرنیو چارو وزارت اختلافات؛
## شنونکي: د حاکمو ټیمونو ترمنځ ناندرۍ د هېواد بهرنۍ سیاست زیانمنوي


۳

### د سولې د خبرو بیا پیل، په کابل کې اختلاف او گونگوالی
۲ مخ

### ولسمشریزې ټولټاکنې؛ ستونزې او راتلونکې سناریوگانې
۲ مخ

### تأثیر دیابت بر درمان زخم؛ چیزهایی که باید بدانید
۵ مخ

## د بدخشان او سرپل د کانونو له تړونونو یو کال اوړي، خو عملي کار یې نه دی پیل شوی

د کانونو د قراردادونو په برخه کې د اصلاحاتو لپاره د ملي یووالي حکومت هڅې ناکامې دي.
دا په داسې حال کې ده چې د ملي یووالي حکومت لخوا له یوه امریکایي او برېتانوي شرکت سره د بدخشان د طلا او د سرپل د بلخاب د مسو د کانونو تړونونو پر لاسلیکېدو یو کال اوړي، خو تر اوسه د دغو کانونو د راسپړلو لپاره عملي کار نه دی پیل شوی.
دغه تړونونه له لومړۍ ورځې له دې کبله له نیوکو او د فساد له تورونو سره مخ دي، چې د افغانستان پر ځای په واشنگټن کې لاسلیک شول او ویل کېږي چې اجاره نیوونکی شرکت یې د کابینې د یوه مخکیني غړي (سادات انوري) کاري شریک دی.
د سنیټار په نوم دغه شرکت ادعا کوي، چې ناامنۍ او جگړې یې د عملي کار مخه نیولې ده.
د سنیټار شرکت اجرایه رییس براډلي بارنیټ ویلي: «موږ به خوښ وای که عملي کار پیل او د استخراج چارې روانې وای، خو هلته ډېر خطرات موجود دي».
دا شرکت داسې مهال له ناامنیو شکایت کوي، چې افغان ځواکونو د بهرنیو ځواکونو په هوایي ملاتړ، په دې وروستیو کې په بدخشان کې پراخ عملیات وکړل او څو ولسوالۍ یې له طالبانو بېرته ونیوې. تمه دا وه چې دا قراردادونه به په افغانستان کې تر دې دمه له ټولو سترې مستقیمې بهرنۍ پانگونې ته لار پرانیزي. د دغه تړون اقتصادي گټه څه باندې یو میلیارد ډالره ارزول شوې وه او ویل کېدل چې ۱۳ زرو کسانو ته به د کار زمینه برابره کړي.

## په راتلونکو دریو اونیو کې به نوی ولسمشر د لوړې مراسم تر سره کړي


۳ مخ

پوهنتون
۴ مخ

## روښان د لوړو زده کړو موسسه


روښان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه په کور دننه او بهر له ځینو پوهنتونونو سره هوکړه لیکونه لري، چې له مخې یې کولای شي خپل استادان او محصلین د نویو تجربو تر لاسه کولو لپاره هلته ولېږي.

## ښوونکو ته له دې وروسته د ځمکې پر ځای اپارتمانونه ورکول کېږي



د پوهنې وزیر محمد میرویس بلخي وایي، وزارت یې په پام کې لري چې له دې وروسته ښوونکو ته د ځمکو پر ځای یو یو اپارتمان ورکړي.
د بلخي په خبره، سره له دې چې ښوونکو ته شاوخوا ۹۲ زره جریبه ځمکه وېشل شوې، خو بیا هم د ښوونکو ستونزه نه ده هواره شوې.
بلخي زیاتوي چې د ښوونکو لپاره د دغه وزارت لخوا یو صندوق رامنځته شوی، څو ښوونکي وکولی شي له دغه صندوقه قرضه تر لاسه کړي. د بلخي په خبره، د ښوونکو د ظرفیت په برخه کې هم کار کوي او نور به دوولسم پاس کسان د ښوونکي په توگه ونه گومارل شي. څوارلسم پاس ښوونکي به د ظرفیت لوړولو کورسونو ته معرفي شي، څو یې وړتیا لوړه شي.
د پوهنې وزیر وایي، سږ کال به شاوخوا ۲۰ زره څوارلسم پاس ښوونکي د نورو لوړو زده کړو لپاره لېسانس ته معرفي شي.

## اعضای ولسی جرگه: فساد در وزارت مالیه به اوج رسیده‌است



شماری از اعضای ولسی جرگه می گویند که فساد در حکومت به ویژه در وزارت مالیه به اوج رسیده‌است و در بیشتر کرسی‌های این وزارت، افراد بربنیاد روابط سیاسی گماشته می‌شوند.
این نماینده‌گان، هشدار می‌دهند که اگر برخوردهای سیاسی و فساد در وزارت مالیه متوقف نشود، بودجه‌های افغانستان حیف و میل خواهند شد. زلمی نوری، یکی از این نماینده‌گان در نشست دیروز جرگه گفت: «از تمام کمیسیون‌های مربوطه به خصوص کمیسیون امور مالی و اقتصادی و دیگر کمیسیون‌ها، یک هیئت مشترک تشکیل شود، بروند گمرکات را ببینند تعیینات شان را که چه فحشایی، چه فسادی در گمرکات جریان دارد که ما باید نظارت شود و جلوش گرفته شود».
عباس ابراهیم‌زاده، عضو دیگر این جرگه نیز اظهار داشت: «تمام چوکی‌های افغانستان بخدا قسم از یک خُرد ضابط که فروش می‌شود تا به یک رئیس گمرک». منورشاه بهادری، یک عضو دیگر جرگه ادعا می کند که وزارت مالیه، به نماینده‌گی از حکومت افغانستان با مقام‌های تاجکستان توافق کرده که با پول افغانستان، بند برقی در تاجکستان ساخته شود و از برق این بند افغانستان کار بگیرد. آقای بهادری در این باره بیان داشت: «حیف و میل‌های عجیبی از وزارت مالیه و کارهای عجیبی صورت گرفته. به عنوان مثال، وزیر مالیه رفته به تاجکستان، پول داده، چندین میلیون دالر، که شما برای خود بند بسازید و وقتی که بند ساختید به ما برق بدهید». اما شمروز خان مسجدی، سخن‌گوی وزارت مالیه این اتهام‌ها را رد می‌کند: «هیچ نوع مقامی در وزارت مالیه و هیچ نوع گماشتن در وزارت مالیه ربطی به خویش خوری و خلاف قانون ویا روابط شخصی نیست».

Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com | Shigal English Academy | www.shigal.edu.af | +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### د سولې د خبرو بیا پیل، په کابل کې اختلاف او گونگوالی

پاکستان تـه د امریکایـي او طالـب پـلاوو لـه سـفرونو وروسـته، اوس یـو ځـل بیـا دا خـبره کېږي چې د طالبانـو او امریکا خبرې بـه بیا پیلېږي. طالـب او امریکایـي اسـتازو په اسلام ابـاد کـې د دغـه هېـواد لـه چارواکـو سره پـر کتنـو سربېره، په خپـل منځ کـې هـم کتلـي دي او د خـبرو د بیـا پیـل پـه اړه یـې بحثونـه کـړي دي. کـه څـه هم دا نارسمي خـبرې بلل شـوې، خـو خـبرو تـر یـو سـاعت زیـات دوام کـړی دی. ویـل کېـږي چـې دواړو لـورو د خبرو د بیـا پیـل لپـاره پـر لارو چـارو خپـل نظرونـه څرگنـد کـړي او ویلـي یـې دي چـې خبرې بـه بیـا پیلـوي.

د طالـب او امریکایـي اسـتازو خـبرې د امریـکا لخـوا پـر طالبانـو د فشـار، د خپلـو غوښـتنو د منلـو او یـو تکتیـک پـه توگـه بندې شـوې. اوس چـې یـو ځنـډ راغلـی او امریکایـي ولسـمشر د خپـل کمپایـن او امریکایـي گټـو لپـاره د خـبرو بریـا تـه اړتیـا لـري، نـو دا خـبرې بـه بیـا پیلیـږي. لـه بلـه اړخـه د سـیمې هېوادونـه، د چیـن او روسـیې پـه شـان سـتر قدرتونـه هـم غـواړي چـې خـبرې بیـا پیـل شي او لـه دې املـه پـر امریـکا فشـار هـم راوړي، نـو د سولې خـبرې بیـا پیلېدونکـې دي. دا چـې دا خـبرې بـه څـه ډول او پـه کومـو شرایطـو پیلیـږي، معلومـه نـه ده؛ خـو روښـانه ده چـې پـه دې خبرو کـې بـه د تېـر پـه شـان حکومت یـا هم منـزوي وي او څـوک بـه ورسره نـه خـبرې کـوي او نـه بـه هـم پـوره معلومـات ورسره شریـک کـوي.

اوس پـه کابـل کـې د دې پـر ځـای چـې د خـبرو لـه بیـا پیـل سره پـه دغـو خـبرو کـې د گـډون هڅـه وشي، خپلمنځـي اختلافـات او د سـولې مخالفـت روان دی. د بهرنیـو چـارو وزارت چـې د ډاکټـر عبداللـه برخـه ده، پاکسـتان تـه د طالبانـو د سـفر هرکلـی کـوي او د خـبرو د بیـا پیـل تمـه لـري، خـو ارگ بیـا پاکسـتان تـه د طالبانـو ورتـگ غنـدي او مخالفـت یـې کـوي. پـه دې ډول د سـولې پـه تـړاو حکومـت پـر دوو برخـو وېشـل شـوی دی. پخـوا بـه د سیاسـتوالو او حکومـت ترمنـځ واټـن و، اوس خپلـه حکومـت هـم سره وېشـلی دی. اوس خلـک نـه پوهېـږي چـې د حکومـت اصـلي تـگلاره څـه ده او د سـولې پـه خـبرو کـې څـه نظـر او دریـځ لـري.

حکومـت ته پـکار ده چـې د اختلافاتـو او لانجو پـر ځـای پر دې کار وکـړي، چـې د سـولې لـه خـبرو سره سـم حکومـت هـم بایـد دغـو خـبرو تـه داخـل شي. کـه حکومـت دغـو خـبرو تـه نـه داخلیـږي، نـو پـکار ده چـې د امریـکا او طالبانـو لـه خـبرو سره هممهالـه د طالبانـو او افغـان پـلاوي ترمنـځ هـم خـبرې پیـل شي. کـه حکومـت وتوانیـږي چـې دا کار وکـړي او بیـا پـه دغـه ټیـم کـې خپـل اسـتازي هـم ولـري، نـو دا بـه لـوی پرمختـگ وي. طالبانـو لـه وړانـدې منلـې چـې د یـو سـیاسي اړخ پـه توگـه بـه لـه حکومـت سره خـبرې کـوي.

اوس حکومـت تـه پـکار ده چـې د خپلمنځـي اختلافاتـو او د سـولې د مخالفـت پـر ځـای، د سـولې او بیـن الافغـاني خـبرو لپـاره کار وکـړي او ټـول تمرکـز د سـولې چـارې تـه واړوي.

# ولسمشریزې ټولټاکنې؛ ستونزې او راتلونکې سناریوگانې

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د طالبانـو د امارت له ړنگېدو وروسـته، دا څلـورم وار د ولسـمشرۍ ټاکنـې دي، چې د ۱۳۹۸ لمریـز کال د تلـې پـه شـپږمه پـه ټـول هېـواد کـې تـر سره شـوې او افغانان لـه ۲۰۰۱ ز کال وروسـته، د درېیم رییس جمهـور د ټاکلـو لپـاره ټاکنیـزو مرکزونو ته د رایـې اچونـې لپـاره لاړل. د رایې اچونې پروسـه سـهار اووه بجـې پیـل او د مازدیگر تـر پنځـو بجو پـورې یـې دوام وکړ.

ټـاکل شـوې لومړنـۍ پایلـې د تلې/میزان پـه ۲۷مـه او وروسـتۍ پایلـې یـې د لـړم/ قـوس پـه ۱٦مـه اعـلان شي.

دا ځـل هـم پـه ټاکنو کې ځینې سـتونزې وې، د شـکایتونو لـه خپلـواک کمېسـیون سره تـر اوسـه پـورې تقریبـاً ۲۲۷۵ شـکایتونه ثبت شـوي دي. همدارنگـه امنیتـي ارگانونـو د طالبانـو د حملـو خبر ورکـړ، پـه زیاتـو ولایتونـو کـې مخابـراتي شـبکې او لارې د خلکـو پر مخ تړلې وې، خـو بیـا هـم پـر دې ټولـو سـتونزو سربېره، خلکـو پـه ټاکنـو کـې گـډون وکـړ، پـه ټوله کـې د ظاهـر پـه لحـاظ دا ټاکنـې د تېـرو پارلمـاني ټاکنـو پـه پرتلـه، یوڅـه منظمې او شـفافې وې.

دا چـې د ټاکنـو پـه پروسـه کـې کومـې تخنیکـي او عملیـاتي سـتونزې موجـودې وې، پـه ټاکنـو کـې د خلکـو گـډون پـه کومـه انـدازه و او راتلونکـي سـناریو به څه وي؟ هغـه پوښـتنې دي چـې دلتـه یـې د ځوابولـو هڅـه شـوې ده.

**د ټولټاکنو پروسې ته لنډه کتنه**

پـه پـام کـې وه چـې د افغانسـتان ولسـمشریزې ټاکنـې د روان ۱۳۹۸ لمریز کال د وري (حمـل) پـه ۳۱مـه تـر سره شي، خـو وروسـته د چنـگاښ (سرطـان) ۲۹مـې او بیـا د میـزان شـپږمې تـه وځنډېـدې. یـو علـت یـې هـم د ټاکنـو پـه کمېسـیون کـې اصلاحـات وو. د کمزورۍ مدیریـت او پراخـو درغلیـو لـه املـه، د ۱۳۹۷ لمریز کال ولـسي جرگـې ټاکنـې جنجـالي شـوې او د پایلـو اعـلان یـې څو میاشـتې وځنډېـد.

وروسـته د ولسـمشر اشرف غني د تقنیني فرمـان لـه مخـې، د ټاکنیـزو کمېسـیونونو کمېشـنران لـه دنـدو لـرې او پر ځـای یې د ۱۳۹۷ لمریـز کال پـه کـب (حـوت) میاشـت کـې نـوي ۱۲ کمېشـنران وټاکل شـول، څو ولسـمشریزې ټاکنې د دوی په مدیریـت تـر سره شـي.

د ټاکنـو د نـوي مهالوېـش لـه مخـې، ټاکنیـز کمپایـن د اسـد پـه شـپږمه پیـل شـو. د ولسـمشرۍ د ۱۸ کاندیدانـو لـه ډلـې د محمـد حنیـف اتمـر ټاکنیـزه ډلـه پـه دغـه ټیـم کـې د داخـلي اختـلاف لـه املـه وپاشـل شـوه او لـه ټاکنـو څـو ورځـې وړانـدې یـې د شـاته کېدو اعـلان وکـړ، خو څلـور نـور نوماندان شـیدا محمـد ابدالي، زلمـي رسـول، ابراهیم الکوزی او نورالحق علومـي د محمـد اشرف غنـي پـه مشرۍ، لـه دولـت جوړوونکـي ټیـم سره یـو ځـای شول.

د میـزان د شـپږمې پـه ټاکنـو کـې ۱۳ کاندیدانـو برخـه درلـوده، د دې ټاکنـو لپـاره لـه ۱۰۰ زرو ډېـر کـورني او نړیـوال څارونکـي گومـارل شـوي وو. پـه دوی کـې ۳۰ زره څارونکـي د ښاغلي عبدالله او ۳۰ زره نـور د ښـاغلي غنـي وو. همدارنگـه د مدني ټولنو اسـتازو، د کمېسـیونونو غړیو، د خپلواکـو ادارو اسـتازو، ملگـرو ملتونـو، امریـکا، برېټانیـا، ایـران، د سـیمې او همسـایه هېوادونـو سـفیرانو هـم پـر دغـه بهیـر څارنـه کولـه.

**د ټاکنو په ورځ ستونزې او ننگونې:**

**۱- امنیتي ستونزې**

پـه افغانسـتان کـې ولسـمشریزې ټاکنې داسـې مهـال تر سره شـوې، چـې د دولت او مخالفینـو ترمنـځ جگړو د پخـوا په پرتله زیـات زور اخیسـتی. طالبانـو لـه خلکو غوښـتي وو چـې پـه ټاکنـو کـې لـه برخـه اخیسـتو ډډه وکـړي او گـواښ یـې کـړی و، چـې پـه ټـول تـوان بـه هڅـه وکړي څـو دغـه بهیـر گـډوډ کـړي. د کورنیـو چـارو سرپرسـت وزیـر مسـعود اندرابي او د دفـاع سرپرسـت وزیـر اسـدالله خالـد پـه یـوه مطبوعـاتي غونـډه کـې وویـل، چـې دوی وتوانېـدل چـې پـه نسـبي امـن سره د ولسـمشرۍ څلـورم دور ټاکنـې پـه ټـول هېـواد کـې تـر سره کـړي. دوی وایي چې د دولـت د مخالفینـو له لـوري زیات خطر پـه تخـار، لوگـر، کونـړ، پکتیـا، پکتیـکا، جوزجـان، فاریـاب، کنـدوز او کندهـار ولایتونـو کـې و. پـه ورتـه وخـت کـې پـه بغـلان، بدخشـان، غـور، فاریـاب، غـزني او کابـل کـې هـم د ناامنـۍ او چاودنـو پـه اړه راپورونـه ورکـړل شـول. د کورنیـو چـارو سرپرسـت وزیـر وایـي، د حکومت د مخالفـو وسـلهوالو پـه بریدونـو کـې دوه پولیـس وژل شـوي او د دریـو سرتېـرو پـه گـډون، ۳۷ ملکیـان ټپیـان شـوي دي. د ټاکنـو کمېسـیون ۷۳۰۰ مرکزونه امنیتي ارگانونو ته پیشـنهاد کـړي وو، چې امنیت یـې ونیسـي؛ خـو د ټاکنـو پـه ورځ ۴۹۴۲ مرکزونـه خـلاص وو، پاتـې نور چې شـمېر یې ۲۳۵۸ ته رسـېده، د امنیتي گواښـونو لـه املـه د ټاکنـو په ورځ تړلي پاتې شـول، تړل شـوي مرکزونه تقریباً د ټولو۳۰ سـلنه جـوړوي.

**۲- تخنیکي او عملیاتي ستونزې**

د کابـل پـه گـډون، د هېواد په هغو سـیمو کـې چـې امنیتي وضعیت یې نسـبتاً ښـه و، د پـام وړ خلکـو پـه ټاکنـو کـې گـډون ونـه کـړ؛ خـو پـه دغـو سـیمو کې بلـه لویه سـتونزه د ټاکنـو کمېسـیون د کار مدیریتي ضعـف و. پـه ډېرو سـیمو کـې مرکزونـه پـه ځنـډ سره خـلاص شـول چـې لـه املـه یې د ټاکنـو موده دوه سـاعته وهـم غځېده، د رایـه ورکوونکـو لېسـتونه هـم د یوه سـایټ پـر ځـای بـل سـایټ تـه لېـږل شـوي وو، چـې له کبلـه یـې ډېرو کسـانو پـه لېسـت کـې د نـوم د نـه موجودیـت لـه کبلـه رایـه ونـه کارولـه او که یـې رایه وکارولـه هم، په سیسـټم کـې ثبـت نشـوه. د بایومټریـک ماشـینونو سـتونزې او پـه سـم ډول کار نه کـول او یـا هـم د بایومټریک ماشـینونو پر کارونـې د ټاکنـو کمېسـیون د کارکوونکـو نـه پوهېـدل او دې تـه ورتـه نـورې هغـه سـتونزې وې، چـې دغـه پروسـه یـې لـه ننگونـو سره مخ کـړې وه. د افغانسـتان د رڼـو ټاکنـو بنسـټ یـا تیفـا وایـي چـې د ټاکنـو پـر وړاندې لویـه ننگونه پـه نوملړ او بایومټریـک ماشـینونو کې د رایه ورکوونکو د نـوم نشـتوالی و. د دې اداري پـه خبره، پـه ۳۴ ولایتونـو کـې د رایـې ۸۸ سـلنه مرکزونـه لـه دې سـتونزې سره مـخ وو او خلکـو رایـه نه ده ورکړې. دا اداره زیاتوي، پـه ځینو ولایتونـو کې ان د رایـه ورکوونکو پـه نوملـړ کـې ځینـې نومونـه نـه وو. بـل هـم پـه یـوه مرکز کـې د رایـه ورکوونکـو د نفـوس او د نوملړ ترمنـځ توپیر و. د بېلگې پـه ډول، د غـزني د کډوالـو ښـارگوټي روغتیایـي مرکـز پـه خپـل نوملـړ کـې د ۳۸۰ کسـانو نومونـه ثبـت وو، خـو دغـه مرکـز تـه ۲۵۰۰ کسـان ورغلـي وو او ویـل یـې چـې ټاکنـو تـه یـې نومونـه پـه همدې مرکـز کـې لیکلـي وو.

**۳- د خلکو کم گډون**

دا ځـل پـه ټاکنـو کـې پـه رښـتیا هـم د خلکـو گـډون پـه بې سـاري ډول کـم رنگه و، ښـایي څـو لاملونـه بـه ولـري. لومړی خـو پـه ټاکنـو کـې د خلکـو د کـم گـډون لامـل دا و، چـې عامـو خلکـو سـولې تـه پـر ټاکنـو لومړیتـوب ورکاوه او دا یـې غوښـتنه وه چـې لومړی سـوله بیـا ټاکنې؛ خـو حاکمـې ډلـې داسـې ونـه کـړل. بـل دا چـې د ۱۳۹۳ لمریـز کال پـه ټاکنـو کـې خلکـو پـه پراخـه کچه پـه ټاکنـو کې گـډون وکـړ، خـو د دوی گډون تـه درناوی ونشـو. د تېـر پنځـه کلن حکومـت مشران د امریـکا د بهرنیـو چـارو وزیـر پـه وسـاطت وټـاکل شـول، ښـایي امنیتـي سـتونزې او خپلـه د ټاکنـو د پروسـې ضعیـف مدیریت او د درغلیـو د شـتون خـبره هـم کېـدای شي، چـې د خلکـو پر نـه گډون یـې تاثیر کـړی وي. همدارنگـه د ۱۳۹۷ لمریز کال پـه پارلمـاني ټاکنـو کـې د شـویو درغلیـو، ضعیـف مدیریـت او پـه پراخـه کچه فسـاد هغـه څه وو، چـې خلکـو پـه دې دور ټاکنو کـې د گـډون زړه ښـه نه کـړ. همـدا ډول د افغانسـتان د رڼـو ټاکنـو بنسـټ یـا تیفـا د خلکـو گـډون پیکه بللـی او په تېـره بیا په خوسـت، پکتیا، جوزجان، غـزني، نیمروز، بدخشـان، کابـل، تخار، فـراه، کندهـار او سرپـل کـې یـې د ښـځو گـډون ډېـر کـم یـاد کړی. کمېسـیون تـه تر اوسـه پورې د ۳۷۳٦ مرکزونـو پایلـې رسـېدلې دي، چې تقریبـاً دوو میلیونو او دوو سـوو زرو کسـانو رایـه کارولـې ده. داسـې معلومېږي چـې د دریـو میلیونـو پـه شـاوخوا کـې خلکـو پـه ټاکنـو کـې برخـه اخیسـتې وه. دا پـه داسـې حال کې ده چې د رسـمي شمېرو لـه مخـې پـه افغانسـتان کـې نهـو میلیونو کسـانو نوملیکنـه کـړې وه.

**راتلونکې سناریوگانې**

د ټاکنیـزو کمپاینونـو پـه لـړ کـې دواړو حکومتـي ټکټونـو پـه ټاکنو کـې د برې په موخـه، پـه لـوړه سـطحه کمپاینونـه وکـړل. دا چـې دوی ولـې وتوانېـدل چـې پـه دې سـطحه کمپاینونـه وکـړي او نـور نوماندان ونـه توانېـدل، شـاید پـه دې خاطـر چـې دوی لـه خپلـو صلاحیتونـو اسـتفاده کړې وي او اوس پـه ټاکنـو کـې دواړه لـوري د بـري دعـوه لـري؛ خـو کـه پـه لومړي دور کـې یـو لـوری اکثریـت ونـه گټـي، دویـم دور تـه بـه بیا همدا دوه ټکټونه سیالۍ ته مـخ تـه کیږي. خـو دا چې یوازې د ټاکنو صنـدوق بـه راتلونکی زعامـت وټاکي، تېر تـه پـه کتـو سره ناشـونې ښـکاري، قـوي احتـمال دا دی چـې اول خـو بـه پایلـې ځنډنـۍ کیـږي، بیـا بـه پایلـې متنـازع کیـږي او پـه نتیجـه کې به آخري تصمیم سـپینه ماڼـۍ نیسـي. کـه چېرې امریـکا پـه رښـتیا سره په افغانسـتان کې د سـولې راتلـو تـه ژمنـه وي، نـو بیـا خـو بـه انتقالي حکومت جوړولـو تـه لاره برابـروي او کـه سـپینه ماڼـۍ د سـولې راتلـو تـه ژمنـه نـه وي، نـو ډېـر احتـمال لـري چـې یـو وار بیا بـه یـو ډول ائتـلافي حکومـت رامنځتـه شي.

## ښوونکي: حکومت له موږ سره کړې ژمنې نه دي عملي کړې

د بلخ ولایت ځینې ښوونکي له دوی سره د حکومت د کړو ژمنو د عملي کېدو غوښتنه کوي.

دوی چې تېره ورځ په مزارشریف ښار کې د ښوونکي ورځې په مناسبت راټول شوي وو، ویلي چې لا هم د ژوند د لومړنیو اسانتیاوو پوره کولو په برخه کې له ډېرو ستونزو سره مخ دي.

په مزارشریف کې د البیروني ښوونځي ښوونکې ملکه حیدري وایي چې د ملي یووالي حکومت له ژمنو سره سره، بیا هم د ښوونکو په ژوند کې د پام وړ مثبت بدلون نه دی راغلی.


هغه زیاتوي، نږدې څلور کاله وړاندې د بلخ له ښوونکو سره ژمنه شوې وه چې د کور لپاره به ځمکه ورکړل شي او همدا راز معاشونه به یې لوړ شي، خو په خبره یې چې تر اوسه دغو دواړو کارونو په مزار کې عملي بڼه نه ده خپله کړې.

مېرمن حیدري دغه راز په ښوونځیو کې د ښوونکو او کتابونو کمښت ته په اشارې وویل چې دې چارې په مکتبونو کې پر تدریسي بهیر منفي اغېز کړی دی.

د هغې په خبره، که حکومت غواړي چې سالم معارف رامنځته کړي، نو باید له هر څه مخکې زده کوونکو ته درسي کتابونه برابر کړي او همدا راز دې په ښوونځیو کې مسلکي ښوونکي استخدام کړي.

هغه زیاتوي چې د غوره تدریس رامنځته کېدو په خاطر باید اړوند اداري د ښوونکو ستونزو ته هم رسېدنه وکړي.

په مزارشریف ښار کې د مختار خصوصي ښوونځي استاد ضیاء احمد سامع پژواک ته ویلي چې د معلمینو اوسنی معاش نه شي کولای چې د دوی ورځنۍ ستونزې حل کړای شي.



د هغه په خبره، ښوونکي له شته ناڅیزه معاش سره سره بیا هم کوښښ کوي چې زده کوونکو ته غوره روزنه ورکړي.

نوموړی زیاتوي چې پوهنې وزارت باید د ښوونکو د ظرفیتونو لوړولو په موخه بېلابېل پروگرامونه تر لاس لاندې ونیسي، څو ورسره د ښوونې او روزنې په بهیر کې هم بدلون راشي.

په ورته مهال د بلخ د پوهنې رییس علي الله امیري پژواک ته ویلي، د پوهنې وزارت هڅه کوي څو ښوونکو ته د استفادې وړ د استوگنې ځایونه چمتو کړي.

هغه زیاته کړې چې د پوهنې وزارت د نوي پلان له مخې معلمینو ته د ځمکې توزیع کول دمگړۍ د هغوی د استوگنې ستونزه نه شي حل کولای چې په خبره یې، اوس یاد وزارت غواړي څو تیار جوړ شوي کورونه او یا هم اپارتمانونه د مستحقو معلمینو په اختیار کې ورکړي.

امیري زیاتوي چې د ښوونکو د معاشونو زیاتوالي په اړه هم جمهوري ریاست ته طرحه استول شوې ده، چې په تایید سره به یې د معلمینو په تنخوا کې زیاتوالی راشي.

نوموړي وویل چې په نږدې وخت کې به په بلخ ولایت کې د ښوونکو د بایومټریک لړۍ پیل شي چې ورسره به د پوهنې ریاست اړوند ټول پرسونل په یوه مشخص الکترونیکي فایل کې ذخیره شي.

# د ارګ او بهرنیو چارو وزارت اختلافات؛

## شنونکي: د حاکمو ټیمونو ترمنځ نانډرۍ د هېواد بهرنۍ سیاست زیانمنوي



سره له دې چې د ملي یووالي حکومت له پیله تر دې دمه له اختلافاتو ډک دی، خو تازه د ارګ او بهرنیو چارو وزارت ترمنځ اختلافات د رسنیو د خبرونو سرټکي دي. په هېواد کې د مهمو او اساسو مسایلو په اړه د ارګ او بهرنیو چارو وزارت ضد او نقیضې څرګندونې د دې ښکارندويي کوي، چې د دواړو لورو ترمنځ ژور اختلافات موجود دي. د یوې مرستیالۍ د ګومارل کېدو پر سر له اختلافاتو نیولې د سولې په اړه تر څرګندونو پورې د دواړو لورو د نظر تقابل لیدل کېږي. طالب پلاوي تېره اونۍ اسلام اباد ته سفر وکړ، خو تر دوی مخکې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد پاکستان ته رسېدلی و. په رسنیو کې داسې راپورونه خپاره شول، چې ګواکې دواړه لوري به په پاکستان کې د خبرو پر بیا پیلېدو بحثونه ولري. ورسره جوخت د هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاند وویل، چې دوی پاکستان ته د طالب پلاوي د سفر هرکلی کوي. د صبغت الله احمدي په خبره، دوی د هر هغه اقدام هرکلی کوي چې افغانان سولې ته رسوي او پاکستان ته د طالب پلاوي سفر ته هم په ښه سترګو ګوري. دا یې هم ویلي وو، چې پاکستان باید دا ځل صادقانه چلند وکړي او د سولې په خبرو کې دې رښتیني اقدامات تر سره کړي.

بلخوا ارګ د بهرنیو چارو وزارت پر دغو څرګندونو غبرګون ښوود. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي په یوه ټوېټ پیغام کې لیکلي وو، بهرنۍ سیاست او د بهرني سیاست لپاره ټولې پالیسۍ ارګ جوړوي او له دې ورهاخوا د بهرني سیاست په اړه څرګندونې د بهرنیو چارو وزارت د ویاند شخصي نظر دی. د ده په خبره، هېڅ اداره حق نه لري چې له ټاکل شوي بهرني سیاسته ورهاخوا د مسایلو په اړه څرګندونې وکړي او که له پالیسۍ څه وایي، نو شخصي نظر یې دی. د بهرنیو چارو وزارت ویاند د صدیق صدیقي پر دې څرګندونو هم غبرګون ښوود او ویې ویل، یوازینۍ اداره چې بهرنۍ سیاست مخ ته وړي او عملي کوي یې، هغه د بهرنیو چارو وزارت دی.

له دې سره د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال ادریس زمان بیا د ارګ دریځ تایید کړ. د ده په خبره، بهرنۍ پالیسي؛ ارګ، امنیت شورا، پارلمان او نورې مهمې ادارې په ګډه ټاکي چې بیا یې بهرنیو چارو وزارت عملي کوي. د ده په خبره، له دې پالیسۍ بهر څرګندونې او دریځ د افرادو شخصي نظر دی. ادریس زمان وایي: ((د ټاکل شوو سیاستونو له دایرې بهر د نظر څرګندونې، د افرادو شخصي نظر دی، خو د بهرنیو چارو وزارت دریځ نه دی)).

له دې سره جوخت د سیاسي مسایلو شنونکي او د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان بیا وایي، د دې اختلافاتو ریښه په ټاکنو او ټاکنیزو ټیمونو کې ده. د دوی په خبره، د دوو ټاکنیزو ټیمونو ترمنځ اختلافات دې مرحلې ته رسېدلي چې اوس د هېواد پر لویو او مهمو مسایلو هم د یوبل پر وړاندې دریځ نیسي او دا د ملي ګټو پر زیان کار دی. د ولسمشریزو ټاکنو نوماند فرامرز تمنا وایي، دواړه ټاکنیز ټیمونه چې د ملي یووالي حکومت یې جوړ کړی، باید د هېواد ملي مسایلو ته د خپلو ټیمي او ټاکنیزو اختلافونو له زاويې ونه ګوري. تمنا وایي: ((د ملي یووالي حکومت پیل د نظر له اختلاف سره و. دوی هر څه ته د خپلو ټاکنیزو او شخصي اختلافونو له زاويې ګوري. په دې سره په نړیواله کچه د هېواد وقار او مقام ته زیان رسوي. زموږ بهرنۍ سیاست زیانمنوي)).

د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال ادریس زمان بیا پاکستان ته د طالبانو سفر هم بې ګټې بولي او په خبره یې، دا د سولې له پروسې سره هېڅ راز مرسته نه شي کولی. نوموړی وایي چې طالب استازي اسلام اباد ته د امریکایي پوهنتون د دوو استادانو د خوشې کولو په اړه د خبرو لپاره سفر کړی او د سولې موضوع په اجنډا کې نه وه.

د ارګ او بهرنیو چارو وزارت ترمنځ اختلافات یوازې د سولې پر موضوع نه دي؛ بلکې نوره مخینه هم لري. صلاح الدین رباني له میاشتو راهیسې د بهرنیو چارو وزارت سرپرست دی چې د پخواني پارلمان له لوري سلب صلاحیت شوی، خو لا هم خپلې دندې ته ادامه ورکوي. همدا راز ویل کېږي چې ښاغلی رباني په بهرنیو چارو وزارت کې د اصلاحاتو مخه نیسي او د هغو کسانو ګومارنه نه مني، چې ولسمشر یې د ګومارل کېدو فرمان صادر کړی وي.

## ټاکنو کمېسیون: د بایومټریک اووه دستګاوې ورکې دي او له ۲۲ نورو چېپ کارتونه ایستل شوي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، په کابل کې په ولسمشریزو ټاکنو کې د بایومټریک ځینې دستګاوې ورکې شوې او له ځینو چېپ کارتونه ایستل شوي دي.

د دغه کمېسیون غړي مولانا محمد عبدالله تېره ورځ په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل چې د بایومټریک ۷ دستګاوې ورکې شوې او زورواکو د بایومټریک له ۲۲ دستګاوو چېپ کارتونه هم ایستلي دي.

نوموړي دا هم ویلي، هغه کسان چې د ټاکنو په ورځ د نابایومټریک شویو رایو په کارولو کې لاس ولري، عدلي او قضایي ارګانونو ته ورپېژندل کېږي.

هغه ویلي، دوی د کمېسیون د ټولو ولایتي دفترونو له مسوولینو غوښتي چې د رایې ورکونې د هغو محلونو په اړه راپور ورکړي چې بایومټریک پکې نه دی کارول شوی او یا زورواکو پکې د صندوقونو ډکولو په ګډون، غیرقانوني کړنې تر سره کړې دي.

د عبدالله په خبره، که اړوند ولایتي مسوولین د سرغړونو په اړه راپور ورنه کړي او د ارزونو پر مهال درغلي ثابته شي، عدلي او قضایي ادارو ته به ور وپېژندل شي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ټینګار کړی و چې یوازې بایومټریک شوې رایې ورته د اعتبار وړ دي. خو د ولسمشرۍ ځیني کاندیدان وایي چې د تلې په شپږمه په ټاکنو کې درغلۍ شوې او نابایومټریک شوې رایې کارول شوې دي.

په ورته وخت کې په ټولنیزو رسنیو کې هم ځینې ویډیوګانې خپرې شوې چې ظاهراً ځینې کسان د مشخصو کاندیدانو په ګټه درغلي کوي.

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا ویلي چې دا ویډیوګانې به و ارزوي او وروسته به په دې تړاو د خپلو څېړنو پایلې له خلکو سره شریکې کړي.

د ټاکنو کمېسیون یاد کمېشنر ویلي چې تر دې مهاله د ۲۱ زرو محلونو د پایلو فورمې دوی ته په بریښنایي ډول رسېدلې دي.


هغه هیله ښودلې چې کابل ته د دغو دستګاوو تر رسېدو وروسته به یې معلومات په مستقیم ډول مرکزي سرور ته انتقال شي.

د عبدالله په خبره، په لومړي سر کې بایومټریک شوې رایې کمېسیون ته د اعتبار وړ دي او وروسته به دغه رایې هم تصفیه کېږي چې سرغړونه پکې نه وي شوې.

نوموړي زیاته کړې: «د هغو کسانو رایې موږ ته د اعتبار وړ دي چې د بایومټریک له لارې یې دوې ګوتې، تذکره او عکس اخیستل شوي، په دې کې بیا دویم ځلې تصفیه کاري کېږي، څکه کېدای شي چې یوه کس دوه ځلې عکس اخیستی وي، په تکرار سره یې د ګوتو نښې ورکړې وي، سټېکر یې تکراري وي، عمر یې کم وي او دغه شان نور».

د یادونې ده چې ټاکل شوې د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې د تلې په ۲۷مه اعلان شي.

## ولسمشر غني: په راتلونکو دریو اونیو کې به نوی ولسمشر د لوړې مراسم تر سره کړي



ولسمشر اشرف غني ویلي، په دریو اونیو کې به نوی ولسمشر د لوړې مراسم تر سره کړي. نوموړي تېره ورځ افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ته د زرو اپارتمانونو د وېش په مراسمو کې ویلي، چې نوی ولسمشر د ټاکنیزو کمېسیونونو لخوا اعلانېږي.


هغه زیاته کړې: «په دریو اونیو کې به نوی ولسمشر د افغانستان د خلکو د پاکو رایو په اساس د لوړې مراسم تر سره کړي، چې د اعلان مسوولیت به یې د ټاکنیزو کمېسیونونو پر غاړه وي». ولسمشر غني داسې مهال په دریو اونیو کې د نوي ولسمشر د لوړې مراسمو د تر سره کېدو اعلان کوي، چې د ټاکنو کمېسیون د مهالوېش له مخې، ټاکل شوې د ولسمشریزو ټاکنو ابتدایي پایلې د روانې تلې میاشتې په ۲۷مه او وروستۍ پایلې یې د لړم میاشتې په ۱٦مه اعلان شي.

د افغانستان د جمهوري ریاست ټاکنې د روانې «تلې میاشتې په شپږمه» تر سره شوې چې د ټاکنو کمېسیون د معلوماتو له مخې، دا مهال له ولایتونو څخه مرکز ته د ټاکنیزو موادو د انتقال لړۍ پیل شوې ده.

په ورته مهال د ټاکنو کمېسیون یوه کمېشنر مولانا عبدالله خبریالانو ته ویلي چې د «تلې په شپږمه» ولسمشریزو ټاکنو پر مهال یوشمېر بایومټریک دستګاوې په کابل او ولایتونو کې ورکې شوې دي.

نوموړي زیاته کړې چې یوازې په کابل کې له له شپږو څخه تر اوو پورې بایومټریک دستګاوې ورکې دي او همدارنګه ځینو زورواکانو په کابل کې د ۲۲ بایومټریک دستګاوو د حافظې شمارلو کارټونه ایستلي او له خپل ځان سره یې وړې دي.

# راپورونه: د عراق په لاریونونو کې د تاوتریخوالي له کبله د وژل شویو کسانو شمېر ۷۳ ته رسېدلی دی



د راپورونو له مخې، په عراق کې د فساد او بېکارۍ د ډېرېدو پر ضد په روانو لاریونونو کې د وژل شویو کسانو شمېر ۷۳ ته رسېدلی او نږدې درې زره نور پکې ټپیان شوي دي.

په لاریونونو کې له تاوتریخوالي سره سم د دغه هېواد شیعه مشر مقتدي صدر د عادل عبدالمهدي په مشرۍ د حکومت د استعفا غوښتنه کړې او پر ملګرو ملتونو یې غږ کړی چې په عراق کې د وختي ټاکنو لپاره چمتووالی ونیسي.

صدر په یوه خبرپاڼه کې په عراق کې روان وضعیت د عراقیانو د وینو تویېدل بللي، چې په خبره یې چوپه خوله پاتې کېدل پرې ناممکن دي.

په ورته وخت کې د دغه هېواد په پارلمان کې د «پاڅونوال» په نامه یوې ډلې چې د صدر پلوي کوي، په پارلمان کې خپل غړیتوب ځنډولی دی.

صدر دغه راز د «تېرېدونکي» په نوم له یوې بلې پارلماني ډلې هم غوښتي وو چې په پارلمان کې خپل غړیتوب وځنډوي او غونډو ته یې ورنه شي. هغه د دې ترڅنګ، د جمعې په ورځ له نورو ډلو هم د ورته ګام اخیستو غوښتنه کړې وه.

دا په داسې حال کې ده چې د دغه هېواد یوه بل شیعه مذهبي مشر علي السیستاني تر دې وړاندې خبرداری ورکړی و، چې د لاریونوالو پر ضد تاوتریخوالی به ناوړه پایلې ولري.

بلخوا ملګرو ملتونو او امریکا هم د لاریونوالو پر ضد د روان تاوتریخوالي په تړاو اندېښنه ښودلې او د عراق له حکومته یې غوښتي چې له زغم څخه کار واخلي.

تر دې وړاندې د تېرې پنجشنبې په ورځ د بشنې نړیوال سازمان هم له عراقه وغوښتل چې سملاسي د امنیتي ځواکونو د تاوتریخوالي مخنیوی وکړي.

د یادونې ده چې په عراق کې دغه لاریونونه د تېرې سې شنبې په ورځ له بغداد څخه پیل شول چې وروسته د دغه هېواد نورو ښارونو ته هم وغځېدل.

د راپورونو له مخې، دغه لاریونونه وروسته له هغې پر تاوتریخوالي واوښتل، چې د دغه هېواد پوځیانو پر هغو لاریونوالو ډزې وکړې چې غوښتل یې ځانونه د بغداد ښار ته رل شوي التحریر میدان ته ورسوي.

لاریونوال چې اوس یې شمېر زرګونو کسانو ته رسېږي، د بغداد په زرغونه سیمه کې ټول شوي او د بېکارۍ، عمومي خدمتونو د خرابوالي او اداري فساد له کبله حکومت په خپلو ژمنو کې پړ بولي.

دغه لاریونونه د ولسمشر عادل عبدالمهدي د حکومت د لومړي کال له کلیزې سره په یو وخت له انټرنېټي بلنې وروسته پیل شول.

## د کتـاب خبـرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

- لیکوال: ابوبکر صدیق
- ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

**پنځم څپرکی**
**له منځه تلونکي قوموونه**




د ۲۰۰۷ز کال په ګرم اوړي کې، اسلاماباد د جګړې پر مرکز واوښت. د افراطیانو د جګړې هغه لمبې چې پخوا د وزیرستان په لیرې درو کې وې، نن د پاکستان پلازمېنې، اسلاماباد ته را رسېدلې وې. د ستراتیژیک عمق له مخې، پاکستان غوښتل د افراطیانو پر مټ په افغانستان کې جګړه وکړي، د هغې جګړې لمبې اوس خپله د پاکستان لمنې ته را ورسېدې. د ۲۰۰۷ز کال د جولای په لومړیو کې، د لعل مسجد په اته ورځنۍ کلابندۍ کې ۱۰۰ وګړي ووژل شول.

د دې مسجد مشر او بنسټګر مولانا عبدالله په ۱۹۶۰ز کال د پنجاب له یوه کلي اسلاماباد ته کډوال شوی و. په نوې جوړه شوې شورا کې هغه د حکومت له لوري د دې لوی مسجد خطیب ګمارل شوی و. په ۱۹۸۰ز لسیزه کې هغه په خپلو خطبو کې د کمونېستانو ضد خبرې کولې، ځکه نو پر جنرال ضیاء الحق باندې ګران شوی و، جنرال له عبدالله غوښتي وو چې په افغانستان کې له جنګېدونکو عربو سره اړیکې جوړې کړي. مولانا عبدالله یوه مدرسه جوړه کړه چې د پاکستان له اکثرو سیمو یې زده کوونکي جذب کړل، له هغو دېوبندي افراطي ډلو سره یې اړیکې جوړې کړې چې په افغانستان او کشمیر کې فعالې وې. کله چې د طالبانو رژیم کابل کې پر واک و، عبدالله له اسامه بن لادن سره کتلي و. کله چې عبدالله په ۱۹۹۸ز کال ووژل شو، د هغه زامنو، مولانا عبدالعزیز او عبدالرشید غازي د هغه د سازمان چارې په غاړه واخیستې.

د لعل مسجد رهبرۍ د وزیرستان د نظامي عملیاتو له پیلېدو سره سم، له حکومت سره مخالفت وکړ. په ۲۰۰۴ز کال د مسجد مشرانو د پوځ پر ضد فتوا ورکړه. په فتوا کې لیکل شوي وو: ((په وانه کې نظامي عملیات د شریعت خلاف دي، ځکه نو په دې عملیاتو کې د پوځ ګډون ته شریعت اجازه نه ورکوي.)) د هغه مهال پاکستاني ولسمشر پروېز مشرف او پوځ هغه وخت ډېر په غوسه شول چې د مسجد مشرانو وویل، په دا ډول نظامي عملیاتو کې د پوځیانو ګډون کبیره ګناه ګڼل کېږي. په فتوا کې لیکل شوي وو: ((د سرتېرو په جنازو کې ګډون مه کوئ او څوک دې هغوی ته د جنازې لمونځ هم نه ورکوي.)) په فتوا کې د حکومت له لوري وژل شوو کسانو ته شهیدان ویل شوي و.

په ۲۰۰۷ز کال د خلکو په وینا د دې مدرسې زده کوونکو یو موازي حکومت جوړ کړی و. د هغوی په اند پر فاحشه خانو یې چاپې ووهلې، غیراخلاقي سي ډي ګان او نور څېزونه یې له منځه یوړل، ځکه چې دوی غوښتل شریعت پلی کړي. د لعل مسجد ترڅنګ د جامعه حفصه مدرسې ښځینه زده کوونکو به چاپې وهلې. هغوی چې په تورو چادریو کې پټې وې او په لاسونو کې به یې اوږده لرګي وو. او په تېرو کلونو کې د دې ډول حالت هېڅ اټکل نه کېده، په ځانګړې توګه په داسې یوه ښار کې چې هر درېیم کس یې دولتي کارکوونکی دی. څو میاشتې حکومت بې تفاوته پاتې شو، وروسته پاکستاني سرتېرو په جون میاشت کې لعل مسجد کلا بند کړ. پاکستاني سرتېرو پر زرګونو زده کوونکو غږ وکړ چې له مسجده را ووځي او تسلیم شي، خو د ورځو په تېرېدو سره لا هم ستونزه نه وه حل شوې. د جولای پر ۸مه مشرف امر وکړ چې پر پاتې یاغیانو دې برید وشي.

عبدالرشید غازي چې د مسجد له د ننه یې د مقاومت مشري په غاړه وه، له پاکستاني او نړیوالو رسنیو سره یې په پرلپسې توګه مرکې کولې. د مولانا عبدالله زوی خبرو ته غاړه نه ایښوده، د سولې هر ډول وړاندیزونه یې رد کړل، له یوه پاکستاني تلویزیون سره په وروستۍ مرکه کې هغه د اسلامي انقلاب غوښتنه کړې وه. هغه په داسې حال کې خبرې کولې چې د ډزو غږونه اورېدل کېدل:

((زما د شهادت وخت را نږدې شوی دی. هیله ده دا سېستم نور بدل کړئ. دغه اوسنی سیاسي سېستم د ټولو ستونزو جرړه ده. دلته د غریبو خلکو پر وړاندې په زرګونو ستونزې دي. یوازې څو کورنۍ د ټولو خلکو وینې څښي. تر هغه چې اسلامي شریعت نه وي پلی شوی، زموږ ستونزې نه اوارېږي.))

د جولای پر ۱۲مه، مشرف ملت ته په خپله وینا کې د عملیاتو د بریا هرکلی وکړ: ((زه ژمنه کوم چې د هېواد هېڅ مسجد او مدرسه به د لعل مسجد په څېر د ناوړه اهدافو لپاره ونه کارول شي. هر چېرې چې افراطیت او بنسټپالنه وي، موږ یې باید له منځه یوسو.)) د یاغیانو پر وړاندې په دې عملیاتو کې چې ځانمرګي بریدونه هم وشول، له سلو زیات سرتېري او پولیس ووژل شول. یو شمېر ملکي وګړو ته هم مرګ ژوبله واوښته. پر انټرنېټ یوه خپره شوې وېډیو کې د القاعدې مرستیال ایمن الظواهري ویل: ((د پاکستان مسلمانانو؛ ستاسو د نجات لاره په «جهاد» کې ده. «ټاکنې» تاسو ته نجات نشي درکولای، «سیاست» تاسو ته نجات نشي درکولای، «مذاکرات» تاسو ته نجات نشي در کولای او «سیاسي حرکتونه» تاسو ته نجات نشي درکولای.))

د سپټمبر په میاشت کې اسامه بن لادن یوه غږیزه اعلامیه خپره کړه، هغه د پاکستان پر خلکو غږ کړی و چې د خپل مرتد واکمن پر وړاندې ودرېږي. د پیغام په یوه برخه کې راغلي وو چې القاعده څنګه وتوانېده د پاکستان پوځ وهڅوي چې پر سني مذهبه افراطیانو پاڅونه وکړي:

**دوام لري...**

# روښان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي



روښـان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د لـوړو زده کـړو لـه وزارت سره د ۱۳۹۰ لمریز کال د جدي میاشت کې تر ثبت او راجستر وروسته، په ۱۳۹۱ لمریز کال کې عملاً پر فعالیت پیل وکړ. د لوړو زده کړو دغه موسسه د ننګرهار ولایت په مرکز جلال اباد ښار کې فعالیت کوي، چې په لومړي سر کې یې یوازې د معالجوي طب پوهنځي جواز تر لاسه کړ او د همدې کال په اوږدو کې یې د نورو پوهنځیو جوازونه هم واخیستل. دغه موسسه اوس په څلورو پوهنځیو معالجوي طب، ستوماتولوژي، حقوق او سیاسي علوم او اقتصاد پوهنځیو کې محصلین د لېسانس په کچه روزي. د دې موسسې د علمي چارو مرستیال فتح ګل شینواری وایي، موسسې یې د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د تضمین ټاکل شوي معیارونه پوره کړي او د ملي او نړیوالو معیارونو پر اساس تحصیلي خدمتونه وړاندې کوي.

روښان د لوړو زده کړو موسسه کې اوسمهال ۴۷۰۰ محصلین په یادو څلورو پوهنځیو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې د ۹۰۰ په شاوخوا کې یې نجونې دي. روښان د لوړو زده کړو موسسې په خپل تحصیلي بهیر کې د معالجوي طب درې دورې، د ستوماتولوژي پوهنځي درې دورې، د حقوقو او سیاسي علومو شپږ دورې او د اقتصاد پوهنځي پنځه دورې فارغان ټولنې ته خدمت لپاره وړاندې کړي دي، چې د ټولو شمېر ۹۰۰ کسانو ته رسېږي. د ښاغلي شینواري په خبره، په فارغ شویو محصلینو کې ۴۵۰ یې نجونې وې، چې اوسمهال په بېلابېلو دولتي او غیر دولتي ادارو کې کار کوي.

روښان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه ټول ټال څلور پوهنځي او نهه ډیپارټمنټونه لري، چې په هر ډیپارټمنټ کې بیا د تدریس چارې د څلورو دایمي استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي. د دې موسسې علمي مرستیال وایي، ټول استادان یې د لوړو زده کړو وزارت د انسجام ریاست لخوا منل شوي او د تقرر ټول مراحل یې پوره کړي دي. ښاغلی شینواری وایي، دا چې دوی د ننګرهار له دولتي پوهنتون سره هوکړه لري، نو په غیر رسمي وخت کې د دغه پوهنتون ۲۴ استادان د تدریس لپاره یادې موسسې ته ورځي. نوموړی وایي، ۳٦ دایمي او ۲۴ قراردادي استادان لري. په دې موسسه کې د ورځې په دوو وختونو کې تدریس کېږي، د سهار له اتو د غرمې تر دوولسو او بل هم له څلورو د ماښام تر اتو بجو پورې.

روښان د لوړو زده کړو موسسه په کور دننه او بهر کې له ځینو پوهنتونونو سره علمي اړیکې او هوکړې لري، چې له مخې یې د خپلو استادانو، محصلینو او اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره ترې ګټه اخلي. فتح ګل شینواری وایي، په کور دننه له ننګرهار دولتي پوهنتون او په ولایتونو کې له بېلابېلو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره علمي اړیکې لري. دغه راز وخت نا وخت له دغو پوهنتونونو سره په اړیکه کې وي، خپلې تجربې ور سره شریکوي او تر څنګ یې د هغوی له تجربو هم ګټه اخلي. دی وایي، له هېواده بهر په هند، پاکستان او ایران کې له ځینو پوهنتونونو سره هوکړې لري او دغه راز په انلاین ډول له ځینو نورو پوهنتونو سره په اړیکه کې دي. د شینواري په خبره، له دغو هوکړو او اړیکو څخه یې موخه دا ده، څو وکړای شي د دغو پوهنتونونو له تجربو ګټه واخلي او تر څنګ یې هلته د خپلو استادانو او محصلینو لپاره د ظرفیت لوړولو او تجربو تر لاسه کولو لپاره زمینه برابره کړي.

دا چې کتابتون او څېړنیز مرکزونه د پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو د ملا تیر بلل کېږي، نو روښان د لوړو زده کړو موسسې هم د خپلو محصلینو او استادانو لپاره یو مجهز کتابتون برابر کړی دی. د دې موسسې د علمي چارو مرستیال فتح ګل شینواري په خبره، دوی دوه ډوله کتابتون لري، چې په یوه کې یې په فزیکي ډول کتابونه موجود دي او له بل څخه یې بیا محصلین په انلاین ډول ګټه پورته کولی شي، چې د نړۍ له مشهورو ژورنالونو سره تړل شوی دی. دی وایي، په فزیکي کتابتون کې یې اوسمهال لږ تر لږه ۱۸ زره ټوکه بېلابېل کتابونه شته چې محصلین او استادان ترې وخت ناوخت ګټه اخلي. روښان د لوړو زده کړو موسسه د کتابتون تر څنګ، یو څېړنیز مرکز هم لري چې استادان او محصلین کولی شي د زده کړو تر څنګ، په یاد څېړنیز مرکز کې څېړنه هم وکړي. د شینواري په خبره، په نږدې راتلونکي کې به په یاد کتابتون کې د کتابونو شمېر دوه برابره کړي، له موسسې بېرون اکاډمیک مرکزونه او په هغوی پورې اړوند کسان کولی شي د هوکړو له مخې، په وړیا ډول د دې موسسې له کتابتون او څېړنیز مرکز څخه ګټه واخلي.

د کتابتون او څېړنیز مرکز تر څنګ، روښان د لوړو زده کړو موسسه د طب او ستوماتولوژۍ پوهنځیو د محصلینو لپاره ځانګړی روغتون لري، چې د طب پوهنځي محصلین پکې خپله د سه تاج دوره بشپړوي او تر څنګ یې د دواړو پوهنځیو محصلین د نظري زده کړو لپاره هم هلته ورځي. ښاغلی شینواری وایي، دا چې د ننګرهار له پوهنتون سره دوی هوکړه لري، نو د ننګرهار د طب پوهنځي روغتون ته هم د دوی د طب پوهنځي محصلین ورځي او ډېری یې اوس هم هلته د سه تاج دوره بشپړوي. یاده موسسه د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي لپاره حقوقي کلینیک لري، چې محصلینو ته پکې تمثیلي محکمې دایروي، څو د نظري زده کړو تر څنګ، عملي زده کړې هم وکړي. شینواری وایي، د سلا مشورې مرکز هم لري چې ډېری کورنۍ ورته مراجعه کوي او په حقوقي برخه کې ورته سالمې مشورې هم ورکوي. ښاغلی شینواری وایي، په پام کې لري چې ډېر ژر په جلال اباد ښار کې له ځینو سکټوري ریاستونو او ادارو سره هوکړې لاسلیک کړي او د اقتصاد پوهنځي محصلین د عملي زده کړو او تجربو تر لاسه کولو لپاره ور معرفي کړي.

روښان د لوړو زده کړو موسسه هر کال دوې د کانکور ازموینې اخلي، چې یوه پسرلنۍ او بله هم خزاني ازموینه وي. د دې موسسې د علمي چارو مرستیال وایي، د محصلینو د بېلابېلو کټګوریو لپاره بېلابېل تخفیفونه لري چې ان ځینې کسان په وړیا ډول هم په یاده موسسه کې زده کړې کوي. ښاغلی شینواری وایي، له لوړو زده کړو وزارت، د ولسمشرۍ ماڼۍ د چارو له ادارې او ځینو نورو بنسټونو سره د هوکړو له مخې، ځینې محصلین دوی ته ور معرفي کېږي، چې له مخې یې یاد کسان کولای شي خپلې لوړې زده کړې په وړیا او یا هم یو مناسب تخفیف مخ ته یوسي. دغه راز په ټوله کې یاده موسسه د شهیدانو او معلولینو د وارثینو، ممتازو او بېوزله محصلینو لپاره ځانګړی تخفیف لري.

د شینواري په خبره، له طب پوهنځي پرته چې د جذب لپاره یې لوړو زده کړو وزارت په کال کې یوازې سل کسان مشخص کړي، په نورو پوهنځیو کې په هر کانکور ازموینه کې خپل ظرفیت ته په کتو، محصلین جذبوي. لوړو زده کړو وزارت خصوصي موسسو ته امر کړی چې په طب پوهنځیو کې په کال کې یوازې د سلو کسانو د جذب اجازه لري، خو په نورو پوهنځیو کې خپل ظرفیت ته په کتو سره محصلین جذبولی شي. شینواری وایي، په هر کانکور ازموینه کې له طب پوهنځي پرته، د ۴۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي.

روښان د لوړو زده کړو موسسه د فارغ محصلینو لپاره ځانګړې اداره لري، چې نه یوازې د محصلینو د تحصیلي اسنادو د ورکړې په برخه کې کار کوي، بلکې له یادو محصلینو سره دې دندې په پیدا کولو کې هم مرسته کوي. ښاغلی شینواری وایي، لوړو زده کړو وزارت ته یې خپل ځانګړی استازی ور پېژندلی، چې له فراغت وروسته په یوه اونۍ کې د محصلینو د تحصیلي اسنادو کارونه خلاصوي او ان په بهرنیو چارو وزارت کې یې هم ورته تاییدوي. دی وایي، ځینې وخت محصلین د تحصیلي اسنادو له ځنډه شکایت کوي، چې اساسي لامل یې په لوړو زده کړو وزارت کې د خصوصي پوهنتونونو په ریاست کې د کارکوونکو کموالی دی. نوموړی وایي، هلته یوازې ۲٦ کسان کار کوي، چې د دومره زیاتو خصوصي پوهنتونونو لپاره بسنه نه کوي.

ښاغلی شینواری وایي، دا چې تر اوسه پورې د خصوصي پوهنتونونو ځانګړې مقرره نه ده تصویب شوې، نو په دغو پوهنتونونو کې د ټولو پرمختګونو مخه نیول شوې ده. دی وایي، اوسمهال د لوړو زده کړو وزارت په امر د نویو خصوصي پوهنتونونو جوړول بند دي او دغه راز په فعالو پوهنتونونو کې د نویو پوهنځیو تاسیس، د ماسترۍ پروګرام پیلول او له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول هم ځنډېدلي دي، چې دغه څه د خصوصي پوهنتونونو د پرمختګ په مخ کې تر ټولو لوی خنډ دی. شینواری له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې په دې برخه کې مرسته وکړي، څو یادو پوهنتونونو ته د پرمختګ زمینه برابره شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸۵,۵۰ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹٦,۱۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# تأثیر دیابت بر درمان زخم؛ چیزهایی که باید بدانید

احمد فردوسی

دیابت یکی از بیماری‌های شایع در دنیا است و کمتر کسی است که تابه حال اسم این بیماری را نشنیده باشد یا با عوامل ایجاد دیابت یا مشکلات ناشی از آن حتی اندک، آشنایی نداشته باشد. مدت زمان لازم برای بهبودی زخم در افراد دیابتی کمی بیشتر از حد معمول است. به همین دلیل، خطر ابتلا به عفونت و سایر بیماری‌های پیش‌رونده در این افراد بیشتر است. در این مقاله به بررسی تأثیر دیابت بر درمان زخم و روش‌های کاهش عوارض آن می‌پردازیم.

**دیابت و بهبود زخم**

سرعت بهبودی زخم در افرادی که به خوبی دیابت خود را مدیریت می‌کنند، بیشتر از کسانی است که چندان کنترلی بر بیماری خود ندارند. در نتیجه، احتمال ابتلا به انواع عفونت‌های پیش‌رونده در آن‌ها کاهش می‌یابد.

زخم‌ها، بریدگی‌ها و سوختگی‌های جزئی بخش‌های تأسف‌بار؛ اما گریزناپذیر زندگی هستند. بااین‌حال، این آسیب‌های کوچک در افراد دیابتی می‌تواند مسائل جدی برای سلامتی آنها ایجاد کند.

در بسیاری از افراد مبتلا به دیابت زخم‌ها به آرامی ترمیم می‌شوند، حتی ممکن است این ترمیم به خوبی اتفاق نیفتد یا زخم به طور کامل ترمیم نشود. در بعضی مواقع این احتمال وجود دارد که نوعی عفونت در محل زخم ایجاد شود.

این عفونت می‌تواند به سرعت به بافت یا استخوان نزدیک زخم یا حتی مناطقی دورتر از محل زخم منتشر شود. در بعضی موارد و در نبود مراقبت‌های اورژانسی، عفونت می‌تواند زندگی فرد را تهدید کند و حتی منجر به مرگ او شود.

حتی اگر عفونتی در محل زخم ایجاد نشود، بهبود آهستهٔ زخم می‌تواند بر سلامت کلی و کیفیت زندگی فرد اثر منفی داشته باشد. بریدگی‌ها یا جراحت در پا می‌تواند راه رفتن را سخت کند یا ورزش کردن را دردناک کند.

لازم است افراد مبتلا به دیابت میزان گلوکوز یا قند خون خود را پایین‌تر از حد قند خون نورمال نگه دارند تا خطر بهبودی آهستهٔ زخم یا عوارضی مانند زخم پای دیابتی را کاهش دهند.

بعضی از گزارش‌ها نشان می‌دهد که از هر ۴ فرد مبتلا به دیابت ۱ نفر دچار زخم پای دیابتی است. زخم پای دیابتی نوعی زخم دردناک است که متأسفانه می‌تواند به قطع پا منجر شود.

بر اساس مقاله‌ای که در یکی از مجلات آمریکایی به چاپ رسید، روزانه در حدود ۲۳۰ قطع عضو ناشی از دیابت در ایالات متحده انجام می‌شود.

**علت ایجاد دیابت**

مطالعه‌ای که در سال ۲۰۱۳ میلادی انجام شد و با توجه به آن ارتباط مستقیمی بین قند خون و بهبودی زخم وجود دارد. تحقیقات نشان می‌دهد که اگر افرادی که به خاطر زخم‌های دیابتی مزمن خود تحت عمل جراحی قرار می‌گیرند، میزان قند خون خود را در زمان جراحی به خوبی کنترل کنند، با احتمال بیشتری بهبودی کامل را به دست می‌آورند.

دیابت به دلیل نقص بدن در تولید انسولین یا حساسیت به انسولین ایجاد می‌شود. انسولین هورمونی است که به سلول‌های بدن اجازه می‌دهد تا گلوکوز (قند خون) را از جریان خون دریافت کنند و از آن به عنوان انرژی استفاده کنند. درصورتی که در این مسیر یا در تولید و استفاده از انسولین نقصی ایجاد شود، بدن نمی‌تواند میزان گلوکوز خون را مدیریت کند.

اگر میزان گلوکوز خون به‌طور دائم بالا باشد، به عملکرد گلبول‌های سفید خون آسیب می‌رساند. گلبول‌های سفید خون نقش اصلی را در سیستم ایمنی بدن دارند. اگر این سلول‌ها عملکرد مناسب خود را نداشته باشند، بدن نمی‌تواند با باکتری‌ها مقابله کند و زخم‌ها را از بین ببرد.

افرادی که دیابت آنها کنترل شده نیست، گردش خون ضعیفی دارند. اگر گردش خون ضعیف باشد، خون به آرامی درون رگ‌ها حرکت می‌کند، به همین دلیل بدن به سختی می‌تواند مواد لازم را به محل زخم برساند. در نتیجه، جراحت‌ها به آهستگی ترمیم می‌شوند یا به طور کامل ترمیم نمی‌شوند.

همچنین دیابت ممکن است در نتیجه نوروپاتی یا آسیب عصبی ایجاد شود که می‌تواند در بهبودی زخم تأثیر داشته باشد. قند خون کنترل نشده به عصب آسیب می‌زند و سبب بی‌حسی در آن منطقه می‌شود. این موضوع احتمالاً به این معنی است که فرد دیابتی نمی‌تواند آسیبی که به پاهایش وارد می‌شود، را احساس کند. در نتیجه، متوجه آسیب نمی‌شود.

از آنجاکه فرد متوجه آسیب نمی‌شود، به دنبال درمان آن هم نمی‌رود و در نتیجه زخم بدتر می‌شود. کاهش سرعت بهبود زخم و در کنار آن کاهش حس در منطقهٔ ایجاد زخم، خطر ابتلا به عفونت را تا حد زیادی افزایش می‌دهد. خطر ابتلا به عفونت باکتریایی زخم در افراد مبتلا به دیابت نوع ۱ و دیابت نوع ۲ بیشتر است.

**عوامل زیر می‌تواند خطر ابتلا به عفونت باکتریایی زخم را افزایش دهد:**

تعرق ضعیف؛
پوست خشک و ترک‌خورده؛
عفونت ناخن انگشت پا؛
و ناهنجاری پا مانند بیماری شارکو .

سایر عوامل مربوط به دیابت که در بهبودی زخم مؤثر است، در ادامه آورده شده است:
کاهش تولید هورمون‌های رشد و ترمیم؛
کاهش تولید و ترمیم رگ‌های خونی جدید؛
سد پوستی ضعیف؛
و کاهش تولید کلاژن.

**عوارض جانبی زخم های دیابتی**

افرادی که بهبودی زخم‌هایشان به دلیل تأثیر دیابت بر اعصاب و رگ‌های خونی به طور ضعیفی انجام می‌شود، احتمالاً عوارض جانبی دیگر مانند بیماری های قلبی، بیماری های کلیوی و مشکلات چشمی را تجربه می کنند.

اگر یک زخم درمان نشده عفونی شود، این عفونت می‌تواند به صورت محلی به عضلات و استخوان منتشر شود که در علم پزشکی به آن استئومیلیت ( osteomyelitis) می گویند.

در صورتی‌که عفونت در زخم گسترش پیدا کند و درمان نشود، می‌تواند به مرحلهٔ قانقاریا (gangrene) برسد. قانقاریا یکی از عوامل شایع قطع عضو در افراد مبتلا به دیابت است و به طور معمول به نبود خون درون بافت آسیب‌دیده و احتمالاً عفونت اشاره دارد. برای درمان، لازم است که بافت قانقاریا با جراحی برداشته شود. بااین‌حال، اگر پزشک در مراحل اولیه وضعیت را تشخیص دهد و خطر کمی برای بافت وجود داشته باشد، ممکن است که قطع کامل عضو لازم نباشد.

بعضی‌اوقات افراد به عفونت درمان نشده یا گندیدگی با اسم علمی سپسیس (sepsis) مبتلا می‌شوند. در این وضعیت عفونت به داخل گردش خون منتشر می‌شود. گندیدگی می‌تواند زندگی فرد را تهدید کند.

**پیشگیری از عفونت زخم‌های دیابتی**

افراد مبتلا به دیابت می‌توانند با استفاده از روش‌هایی مانند کنترل قند خون، مراقبت از پا و درمان به موقع زخم به محض ایجاد شدن آن، زمان لازم برای درمان زخم را کاهش دهند.

**مراقبت از پاها در زمان دیابت**

مراقبت مناسب از پاها شامل موارد زیر است :
شست‌وشوی روزانهٔ پاها؛
خشک کردن پوست قبل از استفاده از مرطوب کننده ؛
پیاده‌روی با کفش و پابرهنه نبودن؛
گرفتن ناخن‌های پا بادقت؛
پوشیدن کفش‌های راحت؛
رسیدگی به پاها و بررسی روزانهٔ داخل کفش ها ؛
و داشتن پزشکی که درهر بار معاینه پاها را بررسی کند.

**درمان زخم**

لازم است که افراد مبتلا به دیابت به دقت زخم‌های خود را بررسی کنند. اگر زخم‌ها با سرعت کمی ترمیم می‌شوند، نباید به مدت چند هفته به صورت باز باقی بمانند که منتشر، ترشحی یا بی‌نهایت دردناک شوند.

بااینکه ممکن است درون زخم عفونتی ایجاد نشود، اما لازم است تا در اولین اقدام برای پیشگیری محل زخم به خوبی تمیز شود و با استفاده از گاز استریل یا بانداژ به خوبی پانسمان شود و این کار هر روز تکرار شود.

یکی از پیشنهادهای خوب برای افراد دیابتی به خصوص اگر زخم‌شان گسترش پیدا کرده باشد، این است که برای پیاده‌روی از کفش و جوراب استفاده کنند. پابرهنه بودن خطر ابتلا به عفونت را افزایش می دهد.

حتی افرادی که دیابت ندارند، اما زخمی در پاهایشان درحال گسترش است و ترمیم نمی‌شود، باید به دنبال درمان باشند. اغلب افراد برای از بین بردن عفونت به آنتی بیوتیک نیاز دارند و اگر زخم بدتر شود، شاید لازم باشد که در بیمارستان بستری شوند.

**کنترل گلوکوز (قند خون)**

افرادی که به‌طور مرتب قند خون خود را کنترل می کنند، کمتر با زخم‌هایی مواجه می‌شوند که قدرت ترمیم شدن ندارند.

افراد مبتلا به دیابت نوع ۱ برای تنظیم قند خون خود به تزریق انسولین نیاز دارند. افراد مبتلا به دیابت نوع ۲ گزینه‌های بیشتری مثل تزریق انسولین و استفاده از سایر داروها، اصلاح سبک زندگی مثل رژیم غذایی سالم، ورزش منظم و مدیریت وزن را در اختیار دارند که می‌تواند میزان قند خون فرد را بهبود بخشد.

افراد مبتلا به دیابت نوع ۱ و ۲ می‌توانند از یک رژیم کنترل‌شده حاوی کاربوهایدریت بهره‌مند شوند. با پزشکی مشورت کنید تا به صورت فردی برای‌تان برنامهٔ غذایی تهیه کند که در آن مقدار خاص کاربوهایدریتی که هر فرد باید به صورت روزانه دریافت کند، مشخص شده باشد.

**کلام آخر**

زخم‌های بهبود نیافته در افراد مبتلا به دیابت، می‌تواند به سرعت زندگی آنها را تهدید کند. بهترین روش برای بهبودی هرچه بیشتر زخم‌ها در افراد دیابتی، درمان سریع و مدیریت مؤثر گلوکوز یا قند خون است. فرد مبتلا به دیابت درصورتی‌که با زخم‌های جدی و دردناک که با گذشت چند روز ترمیم نمی‌شوند یا با عفونت در حال گسترش مواجه شد، باید بلافاصله به پزشک مراجعه کند.

درمان با آنتی‌بیوتیک‌های قوی، تمیز کردن زخم، جراحی برای برداشتن بافت‌های مرده و مهم‌تر از همه کنترل مؤثر قند خون، می‌تواند به درمان زخم کمک کند. اگر زخم به درمان پاسخ نداد، مرحله بعدی می‌تواند قطع عضو باشد.

لازم است تا افراد برای کاهش عوارض جانبی، قبل از گسترش زخم اقدامات پیشگیرانه را انجام دهند.

# پنټاګون: په افغانستان کې مو د وسله والو طالبانو پر وړاندې هوايي بريدونه ډېر کړي دي

د امريکا دفاع وزارت يا پنټاګون ويلي، په افغانستان کې يې د وسله والو طالبانو پر وړاندې هوايي بريدونه ډېر کړي دي.

د امريکا دفاع وزير مارک ايسپر په واشنګټن کې امريکايي رسنيو ته ويلي چې امريکايي ځواکونو د ولسمشر ټرمپ په لارښوونه په افغانستان کې د طالبانو پر وړاندې خپل بريدونه ډېر کړي دي.

نوموړي له يوې پوځي هډې څخه د را ستنېدو پر مهال ويلي، د سولې خبرو اترو تر لغوه کېدو وروسته، د امريکايي ځواکونو په هوايي بريدونو کې وسله والو طالبانو ته درنه مرګ ژوبله اوښتې ده.

بلخوا د افغانستان دفاع وزارت هم ويلي چې د طالبانو پر وړاندې د امريکايي ځواکونو بريدونو د جګړې پر ډګر مثبت اغېز کړی او افغان امنيتي او دفاعي ځواکونه به هم د طالبانو پر وړاندې خپلو عملياتو ته زور ورکړي.

د دفاع وزارت مرستيال وياند فواد امان ويلي: «له شک پرته هر څومره چې نړيواله ټولنه او امريکا د افغان امنيتي ځواکونو ملاتړ کوي، خپلې همکارۍ زياتوي، هغومره چې دوی خپلې مرستې زياتوي، په هماغه اندازه به مونږ ډېرې برياوې ولرو، پرته له شکه چې د پام وړ اغېزې به ولري».

نوموړي ويلي، افغان امنيتي ځواکونه د امريکايي ځواکونو په ملاتړ توانېدلي چې د وسله والو پر وړاندې پراخ عمليات وکړي او ځينې ولسوالۍ بېرته ونيسي.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ هم د سولې د هوکړې تر لغوه کېدو وروسته، د وسله والو طالبانو پر وړاندې د بريدونو د زياتېدو خبر ورکړی و. خو د ولسي جرګې د دفاعي چارو کمېسيون مرستيال غلام ولي افغان د بهرنيو ځواکونو بريدونو ته په اشارې ويلي، د جګړو پر ځای بايد سولې ته لومړيتوب ورکړل شي.

هغه ويلي: «اوسمهال هوايي حملې په ځانګړي ډول د بې پيلوټه الوتکو حملې زياتې شوې او دا ډېرې اغېزې هم لري، خو زه فکر کوم چې د افغانانو ترمنځ د سولې خبرې تر ټولو غوره لار ده».

دا په داسې حال کې ده چې د سولې خبرو تر لغوه کېدو وروسته، طالب مشرانو ځينو سيمه ييزو هېوادونو ته سفرونه کړي او په دې هڅه کې دي چې له امريکا سره بياځلې خبرې پيل شي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA

# المبارک
توریستي شرکت

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!




0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۱٤مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر شپږمه | ٤۳۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲۷ | ۳۰ | ۲۷ | ۳۲ | ۲۷ |
| ۱۰ | ۱۲ | ۱۵ | ۱۵ | ۲۰ | ۲۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۸ | لمر ختل ۰۵:۵۰ | ماسپښین ۱۱:٤۳ | مازدیګر ۰۳:۰۲ | ماښام ۰۵:۳۳ | ماخوستن ۰٦:۵۷

## نړۍ



# راپورونه: د عراق په لاریونونو کې د تاوتریخوالي له کبله د وژل شویو کسانو شمېر ۷۳ ته رسېدلی دی

۳

## ترکیه: د عراق په شمال کې د «پي کې کې» ۱۷ جنګیالي وژل شوي دي



د ترکیې دفاع وزارت ویلي، د عراق په شمال کې یې د کردستان د کارکر ګوند یا پي کې کې ۱۷ جنګیالي وژلي دي.

د دغه هېواد د دفاع وزارت په اعلامیه کې راغلي چې دغه جنګیالي د عراق د شمال په زاپ، اواشین او ګارا سیمو کې په هوایي بریدونو کې وژل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ترکیې پوځ د عراق په شمال کې له تېرې مې میاشتې راهیسې عملیات پیل کړي چې وړمه ورځ پای ته ورسېدل.

په ورته وخت کې عراق بیا بیا د دغه هېواد په خاوره کې د ترکیې عملیات غندلي او پر انقرې یې غږ کړی، چې ژر تر ژره دې له دې سیمې ځواکونه وباسي.

د یادونې ده چې د کردستان کارکر ګوند یا پي کې کې چې د ځینو لوېدیځو هېوادونو ملاتړ له ځانه سره لري، له تېرو ۳۰ کلونو را پدېخوا د ترکیې د دولت پر وړاندې وسله واله مبارزه پیل کړې، چې تر دې دمه یې د دغه هېواد زرګونه امنیتي ځواکونه وژلي دي.

که څه هم لوېدیځو هېوادونو پر ترکیې غږ کړی چې د دې ډلې پر وړاندې خپل پوځي عملیات ودروي، خو ترکیه بیا دغه ډله خپل ملي امنیت ته ګواښ بولي او په ترکیې سربېره یې په سوریې او عراق کې هم د دې ډلې پر مرکزونو پوځي عملیات پیل کړي دي.

## کابلوف: طالبان هم برای صلح و هم برای جنگ آماده استند



ضمیر کابلوف، نمایندۀ ویژۀ رئیس‌جمهور روسیه برای افغانستان می‌گوید که طالبان هنوز هم آماده استند که گفت‌وگوهای صلح از سر گرفته شوند و توافق‌نامه میان این گروه و امریکا نهایی شود.

این سیاست‌گر روسی، در یک گفت‌وگو با یک تلویزیون هندی، گفته‌است که اگر امریکایان جنگ را انتخاب کنند، طالبان نیز آمادۀ جنگ استند.

کابلوف، در بخش دیگر از سخنانش هم‌چنان افزوده‌است که طالبان از روسیه خواسته‌است تا برای از سرگیری گفت‌وگوهای صلح کمک کند. به گفتۀ او زلمی خلیلزاد، نمایندۀ ویژۀ ایالات متحده امریکا برای صلح افغانستان و همکاران آقای خلیلزاد نیز برای از سرگیری این گفت‌وگوها علاقه دارند. وی افزوده است: «وقتی‌که هر دو طرف می‌خواهند که با هم دیگر گفت‌وگو کنند و به کمک نیاز دارند، ما حاضر استیم که به بهترین شکل کمک کنیم».

به گفته وی: «طالبان هنوز هم آماده استند که گفت‌وگوها را از سر بگیرند و توافق‌نامه را نهایی بسازند؛ اما اگر امریکایان جنگ را انتخاب کنند، آنان برای جنگ نیز آماده استند».

اما ادریس زمان، معین سیاسی وزارت خارجۀ افغانستان دیروز گفت تا هنگامی‌که گروۀ طالبان با حکومت افغانستان گفت‌وگو نکنند، تلاش‌های صلح به نتیجه‌یی نخواهد رسید. این در حالی است که گفت‌وگوهای امریکا و طالبان، یک ماه پیش پس از یک حملۀ انتحاری طالبان در کابل که در آن دوازده تن به شمول یک سرباز امریکایی کشته شدند، از سوی دونالد ترمپ، رئیس‌جمهور امریکا متوقف شدند.

در خلال این مدت، یک هیئت گروۀ طالبان به چندین کشور از جمله چین و روسیه سفر کرد و اخیراً در هفتۀ گذشته به اسلام‌آباد رفت و با مقام‌های ارشد این کشور دیدار کرد.

رویترز روز گذشته گزارش داد که زلمی خلیل‌زاد نیز به اسلام‌آباد سفر کرده‌است و با هیئت طالبان دیدار یک ساعته داشته‌است.

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی OCHA تصمیم دارد تا به مهاجرین وبیجاشده گان متاثر از جنگ در ولایت کندهار، ولسوالی‌های سپین بولدک، ژیری و تخته پل تشنابها را اعمار نماید. انعده شرکت‌های ساختمانی علاقه مند که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www. acbar.org.af از تاریخ (October 06, 2019) الی (October 12, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ١٦٧٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

مؤسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی OCHA تصمیم دارد تا به مهاجرین وبیجاشده گان متاثر از جنگ در ولایت کندهار، ولسوالی‌های سپین بولدک، ژیری و تخته پل کتابهای صنف اول خریداری نماید. انعده شرکت‌های ساختمانی علاقه مند که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www. acbar.org.af از تاریخ (October 06, 2019) الی (October 12, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ١٦٧٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل

procurement@coar.org.af